د "ويښ زلمي" مترقي نهضت بنسټ ایښوونکی

محمدرسول پښتون
۱۲۷۹ - ۱۳۶۱ هـ ش

ارواښاد ښاغلی محمدرسول پښتون د مرحوم حاجي خدايارخان[1] (د ۱۳۰۲ ش. کال په لوجرګه کي د ټولو بارکزو مشر او استازی) زوی ، د مرحوم حاجي اللّٰه يارخان (د ميوند د جنګ شهيد ۱۸۳۹ م.) لمسی ، د مرحوم حبيب اللّٰه خان کړوسی او د "لو ادې[2]" ، او مرحوم عبدالمنصورخان بارکزي[3] (منصور نيکه) او ارواښاد سردار عبداللّٰه خان بارکزي مشهور په کلان خان (لوی خان) له پښته دئ. (د سيمي د سپين ږيرو په حواله ارواښاد سردار عبداللّٰه خان بارکزی د اعليحضرت احمدشاه بابا(رح) په وخت کي د پاني پت په جګړه کي د شهادت مقام ته رسېدلی او يوازي ددې مرحوم سر کندهار ته راوړل سوئ او په منصور غونډۍ کي خاورو ته سپارل سوئ دئ).

ښاغلی محمدرسول پښتون په ۱۲۷۹ لمريز کال د ميزان په مياشت کي (د ۱۹۰۰ ميلادي کال سپټمبر) د کندهار په منصور کلي (منصور غونډۍ) کي چي د کندهار ښار په دېرش کيلومترۍ کي سويلي خوا ته پروت دئ ، په يوې درنې کورنۍ کي زوکړئ دئ. ابتدايي زده کړې يې د خپل پلار مرحوم حاجي خدايارخان[4] او د کندهار له شهيرو علماوو څخه وکړې ؛ په فلسفه ، حقوقو ، شرعي اصولو ، فقه او سياست کي د ډېري ژورې مطالعې خاوند و ؛ د ملي حاکميت ، اجتماعي عدالت ، واقعي ډيموکراسۍ او د مشروطه شاهي نظام کلکه پلوي يې کوله او د ژوند ترپايه پوري د خرافاتو پر ضد وجنګېدئ. ارواښاد پښتون يو وطنپال ، ټولنيز او مؤمن شخصيت و .

د ښاغلي محمددين ژواک د ثبت سوي مصاحبې پر اساس ”مرحوم خان عبدالغفارخان (پاچاخان) هغه د "فَخرِ بارَک" په نامه نومولی و.“ مرحوم پښتون د "مشروطيت" د دريمي دورې مخکښ او د "ميثاق" ، "ويښ زلمي" (تر ۱۳۰۷ ش. دمخه) او "افغان ورورګلوی" (۱۳۴۴ ش.) د غورځنګو بنسټ اېښوونکی و. محمدرسول خان پښتون د ۱۳۶۱ لمريز کال د چنګاښ د مياشتي په ديارلسمه نېټه چه د ۱۹۸۲ م. کال د جولای د څلرمي سره سمون لري د دواتيا کالو (۸۲) په عمر په کابل کي وفات او د کابل په شهدای صالحين کي خاورو ته وسپارل سو. خدای ج دي وبخښي.

د ارواښاد پوهاند عبدالشکور رشاد ليکنه د ښاغلي پښتون صاحب د زوکړې او وفات د نېټې په ارتباط دهغه د قبر پر شنخته داسي ليکل سوې ده:

”انااللّٰه واناااليه راجعون.

دلته ستاسي دعا ته محتاج محمدرسول پښتون (د حاجي خدايارخان بارکزي زوی) ښخ دئ.

دی په ۱۳۱۸ هـ.ق. (۱۲۷۹ ش. – ۱۹۰۰ م.) په کندهار کي زوکړئ او د ۱۴۰۲ هـ.ق. د روژې په ديرلسمه

(۱۳ د سرطان ۱۳۶۱ ش. د جولای څلرمه ۱۹۸۲ م.) په کابل کي حق ته ورسېد.

دی له ځوانی څخه تر مرګه پوري د خرافاتو پرضد جنګېدلئ ، د خلکو د حقوقو او ډيموکراسی

له پاره يې مبارزه کړې او په دغه "جرم" يې يوولس کاله (۱۳۳۱ - ۱۳۴۲ ش.) سياسي بند هم ګاللئ دئ.

اللهم اجزئه بماصبر جنته وحريرا.“

۱- ښاغلي غبار د "افغانستان در مسير تاريخ" په ۷۶۲ صفحه کي د مرحوم حاجي خدايارخان بارکزي په اړه ليکلي دي چي دی د نورو کندهاري مشرانو په ملګرتيا د (کوچني شهيد) په نامه د انګرېزي فتنې او توطئې د عملي کېدو مخ نيوونکی و.

۲- لو ادې د وزير فتح خان مور ، د مرحوم عبدالمنصورخان بارکزي او مرحوم حبيب اللّٰه خان بارکزي (د ارواښاد محمدرسول پښتون ورنيکه) خور او د سردار پاينده خان مېرمن وه. د بارکزو د سلطنت بنسټ همدې مېرمن کېښېښود.

۳- منشي عطامحمد شکارپوري د "نوای معارک" په ۲۳۰-۲۳۸ ، ۸۴۹-۸۵۴ ، ۸۶۶-۸۷۲ صفحو کي د مرحوم عبدالمنصورخان ابازي بارکزي په هکله ليکي چي دی د اعليحضرت شاه محمود په وخت کي تر ۱۲۴۰ هـ.ق پوري د هند د (شکارپر) د سيمي وروستی افغاني حکمران و.

۴ - د اعليحضرت اميرعبدالرحمن خان د سلطنت په وخت کي په سويل او سويل لوېديځ افغانستان (لوی کندهار) کي پر ټولو بارکزو اقوامو د مځکو ماليې حواله سوې. ددغو ماليو غوښتنه د اعليحضرت امان الله خان د سلطنت په دوره کي هم دوام درلود او د منطقې په سطحه يوه ستونځمنه مسئله وه . په دې وخت کي د لوی کندهار بارکزي په يوه غونډه کي سره راټول سول او ويې پتېيله چي داسي يو څوک انتخاب کي چي هم د قومي رسوخ او محبوبيت خاوند وي او هم د فارسي په ويلو کي فصاحت ولري . دوی غوښته چي په کابل کي د خپل مشر او استازي په وسيله حکومت په دې قانع کړي چي ددوی مځکي— چي اکثره يې په خشکاوه (خشک آبه) کي پرتې دي او ډېر حاصلات نه لري — د ماليې د ورکړې څخه معاف کړي .

ددې غونډې په نتيجه کي يوازينی شخص چي هم يې قومي مشرتوب درلودئ او هم يې فارسي ژبه روانه زده وه او هغه مرحوم حاجي خدايارخان (حاجي بابا) و غوره سو . حاجي خدايارخان کابل ته ولاړئ او هلته څو مياشتي واوسېد . تر يوه لړ منطقي دلايلو وړاندي کولو وروسته حکومت او دربار په دې قانع کړل چي د بارکزو جايدادونه د ماليې د ورکولو څخه معاف کړي .

ددوی د مرګ څخه وروسته اعليحضرت امان الله خان د بارکزو ماليه معافوي او بيا وروسته د اعليحضرت محمدظاهرشاه د سلطنت ترپايه بارکزي د مځکو د ماليې د ورکولو څخه معاف ګڼل کيږي . دا کار د لوی کندهار په ارتباط د حاجي بابا د سترو کارنامو څخه و .

رسمي دندې:

مرحوم محمدرسول خان پښتون د خپلو رسمي ماموریتونو په اړه داسي لیکي:

"۱- د اعلیحضرت امان الله خان په عصر کي د (انشا) په نوي جوړسوي غونډ کي د کنډکمشر په حیث؛

۲- د قلات د ارغنداب علاقه دار - ۱۳۰۶ ش.؛

۳- د کندهار د نوزاد علاقه دار - ۱۳۰۷/۷/۲۴ ش.؛

۴- د ښوراوک علاقه دار (د سقوي ښورښ نه وروسته)؛

۵- د خاکرېز علاقه دار؛

۶- په ترفیع سره د اجرستان حاکم - ۱۳۱۱/۸/۲۸ ش.؛

۷- د سپین بولدک سرحددار - ۱۳۱۱/۱۰/۱۱ ش.؛

۸- د پښتون ملي شرکت د تحریراتو منشي - ۱۳۱۲ ش.؛

۹- د فراه کنډکمشر او امنیه قومندان (په پنځمه رتبه)- ۱۳۱۷/۵/۱ ش.؛

۱۰- د کندهار د پولیسو سرمامور - ۱۳۱۸/۸/۴ ش.؛

۱۱- د پلخمري د نوي ښار د مصالح د تهیې مدیر د اقتصاد د وزارت دخوا - ۱۳۱۹/۶/۱۹ ش.؛

۱۲- د پلخمري د ټرانسپورټ رئیس - جدي ۱۳۱۹ ش.؛

۱۳- د پلخمري د تعمیراتو رئیس - سرطان ۱۳۲۰ ش.؛

۱۴- د پلخمري د ارزاقو مدیر - ۱۳۲۱/۴/۱ ش.؛

۱۵- د جبل السراج د فابریکې د فني مدیریت معاون - ۱۳۲۳/۳/۱۵ ش.؛

۱۶- د پلخمري د تفتیش رئیس - ۱۳۲۳/۱۱/۲۰ ش.؛

۱۷- د کندهار د میوې د شرکت د تفتیش مدیر په خارج کي - ۱۳۲۴/۳/۱۷ ش.؛

۱۸- د کندهار د میوې د شرکت مستقل استازی په خارج کي - جدي ۱۳۲۴ ش.؛

۱۹- د افغان فروټ اجنسي رئیس په بلوچستان کي - زمری ۱۳۲۵ ش.؛

۲۰- د ملي حمل و نقل رئیس - سلواغه ۱۳۲۹ ش.؛

۲۱- د دولتي انحصاراتو عمومي مدیر - کب ۱۳۲۹ ش.؛

۲۲- د بغلان د انحصاراتو مدیر - ۱۳۳۰/۶/۲۳ ش.؛

(په بغلان کي سیاسي محبوس - ۱۳۳۱ ش. - ۱۳۴۲ ش.؛)

۲۳- د کندز د انحصاراتو مدیر - ۱۳۴۳ ش.؛

۲۴- د مرکز د انحصاراتو د ریاست تفتیش - ۱۳۴۴/۳/۱۸ ش.؛

(ملي شورا ته کاندید - ۱۳۴۴/۴/۴ ش.؛)

۲۵- د کندز د انحصاراتو مدیر - د میوندوال صدراعظم په دوره کي په نامعلومه علت پس له شلو ورځو د کاره برطرفه سوم. د صدارت معاون ښاغلي پوپل وروسته اوامر صادر کړل چه بیرته دی کار ته مقرره او د برطرفی د وخت معاش دي هم ورکړل سي . دا مقرري د محمد داود خان د کودتا په نتیجه کي (۱۳۵۲ ش.) عملي نسوه."

سیاسي ژوند:

د مرحوم حبیبي صاحب (د اروانباد پښتون صاحب اخښی) د روایت پربنا، د پښتون صاحب سره د یو مترقي نېشنلستي نهضت او غورځنګ مفکوره د سقوي اغتشاش تر پیل دمخه موجوده وه. په دې اړه اروانباد پښتون صاحب په یوه یادښت کي چي مرحوم استاد عبدالحي حبیبي ته یې ورکړئ و او هغه د پښتون د "شرح حال" (آټوبیاګرافي) پر محتویاتو استناد لري ، داسي لیکي:

(ترجمه): " زما د تحریک ریښه تر ۱۳۰۷ ش. کال دمخه په کندهار کي موجوده وه او دهغه (ویښ زلمي)د مقرراتو وضع ، تشکیل او د یوځای کېدو کار د سقوي اغتشاش څخه لس ورځي دمخه یعني د ۱۳۰۷ ش. کال په پای کي و. ما د مشروطه غوښتونکو مرام او د اتحادیې جوړولو وړاندیز خپلو ملګرو ته وړاندي کړ چي د منلو وړ وګرزېد. زما د متحدینو په جمله کي محمدرفیق خان ، مرزا محمداعظم ایازي ، منشي منظورمحمد ، د رشدیې سرمعلم محمدکریم او اولیاء الدین خان ، د ښوونځیو ښوونکي او زده کوونکي او داسي نور وه. د هغې ډلي څخه مي د (مسلم) نوم په یاد دئ چي تراوسه ژوندی او په کندهار کي اوسېږي."

سیاسي شخصیت محمدرسول خان پښتون په ۱۳۱۵ لمریز کال کي له مرحوم محمدگل خان مومند سره د هیواد په شمالي ولایاتو کي همکار و ؛ د غلام حسن خان ساپې سره یې د مشروطه شاهي نظام د استقرار دپاره د ډله ییزه تحریک خبري پیل کړې. لږ راوروسته کله چې په پېښور کي دواړو سره ولیدل، مصمم سول چې محمدرسول خان پښتون به په لوی کندهار کي او غلام حسن خان ساپې به په لوی ننګرهار کي د مشروطه شاهي نظام د استقرار په منظور په مسالمت آمیزه سیاسي تحریک لاس پوري کوي. په هر حال په ۱۳۲۴ لمریز کال کي د کندهار او ننګرهار منورین په ګډه سره داسې تفاهم ته سره ورسېدل چې د کندهار منورین به په کندهار کي او د ننګرهار منورین به په ننګرهار کي د مشروطه شاهي نظام او ډیموکراسی د پیاده کولو دپاره په عالمانه او عاملانه توګه مسالمت آمیزه تحریک پیلوي. په ۱۳۲۵ لمریز کال کي د محمدهاشم خان صدراعظم د استبداد او اختناق دوره پای ته ورسېده او مستعفي سو ؛ د هغه ورور شاه محمود خان د دفاع وزیر، د صدراعظم په حیث وټاکل سو. شاه محمود خان صدراعظم له دې وېري چې مبادا افغان ولس به د خودکامه او مطلقه نظام د استبداد پر ضد د اخري چارې تر عنوان لاندې په پاڅون او عمومي قیام لاس پوري کړي، د هیواد په چارو کي یې خپل جهت ته تغیر ورکړ او د خواخوږی او استمالت په منظور یې زندانونه له سیاسي بندیانو څخه تش کړل او په عین وخت کي یې له یوې خوا د کاذبې دیموکراسی زمزمه پیل او له بلې خوا یې د یو سلسله اصلاحاتو وعده ورکړه. د ښاروالی او د شورا د دوهمې دورې دپاره یې آزاد انتخابات او آزادو نشراتو خپرول ومنل. نو څکه ویښ زلمیانو[5] په ۱۳۲۶ لمریز کال کي د ویښ زلمیانو تاریخي رسالت او ملي مکلفیت دا قتراح په توګه مطرح او د هغې ورځې د پوهانو او منورینو نظر یې وغوښت. هماغه و چې ۴۳ پوهانو، منورینو، د نظر او قلم خاوندانو داسې نظر څرګند کړ چې ویښ زلمیان د ملي او اجتماعي ډله ییزه تحریک مخکښان او د افغان ملت د قدرت مظهر دي، مکلفیت او مسوولیت لري چې بې له ځنډه د اجتماعي ژوند د سیاست د سیالی ډګر ته ورودانګي. په همدې اساس محمدرسول خان پښتون د نورو ویښ زلمیانو په ملګرتیا، د یوې منطقي او معقولې کړنلارې په چوکاټ کي علناً د مشروطه شاهي نظام او رښتیني ډیموکراسی د استقرار دپاره مسالمت آمیزه ډله ییزه تحریک پیل کړ. دا سیاسي شخصیت د ویښ زلمیانو د سیاسي متشکل ګوند ډېر پیاوړی مبارز او انحراف ناپذیره بنسټ اېښوونکی و. دده انحراف ناپذیري ددې سبب سوه چې یوولس کاله او اته میاشتې سخت سیاسي حبس وګالي.

د هیواد د مور یو ډېر رښتیني او نېشنلیسټ زوی ښاغلی محمد داؤود مومند په امریکا کي یوې خپرېدونکي نشریې (آئینهٔ افغانستان) ته یوه مقاله ورکړې وه. د مقالې عنوان و :"د مشروطیت غوښتني د دریمې دورې علمبردار محمدرسول پښتون" . په دې مقاله کي ښاغلي مومند لیکلي وه چې: "د پښتون په ذاتي او جبلي توګه د شهرت غوښتني او اقتدار نه کرکه وه . پښتون د خپلې مبارزې د پړاو یوه ملګري مرحوم ... ته چې وروسته د وزارت او سفارت مقام ته ورسېد ، ویلي وه : چې تاسې یو ډیپلوم هم نه لرئ ؛ خو زه شل ډیپلومه لرم ، (د پښتون صاحب منظور خپلې بې شماري استعفانامې وې.) ؛ تاسې په قصرونو کي ژوند کوئ او زه خانه بدوش یم ؛ تاسې ... خو زه تقاعد هم نلرم ؛ تاسې متلون المزاجه یاست ، خو ما په ژوند د خپلو اصولو څخه عدول نه دی کړئ او له دې اصولو سره به یوځای مرم ... ،"

آثار:

د ملي او اجتماعي مبارز شخصیت محمدرسول خان پښتون د ژوند ډېره برخه په سیاسي فعالیتونو او زندانو کي تېره سوې ده. که څه هم د تعلیم او تحصیل خورا سخت مین و او همیشه یې ددې خبري یادونه کول؛ خو د ډېرو آثارو و لیکلو ته یې کافي وخت نه درلود. د مرحوم پښتون صاحب لیکلو آثارو او تالیفاتو ته په لاندې ډول اشاره کیږي.

خلص تاریخچه ویښ ځلمیان، ناچاپ.

ترجمه عقاید ابوشکور سالمي به فارسي، ناچاپ.

اندیشه ها: حاوی مقالات سیاسی، فلسفي، اجتماعي، اخلاقي و ده ها وجایز، ناچاپ.

تلخیص تاریخچه جهان، ناچاپ.

تلخیصات درشش جلد.

رساله نهضت نسوان عصر اماني.

ګڼ شمېر مقالې ، نثرونه او شعرونه یې د کابل په مجله ، انګار ، طلوع افغان ، کاروان ، افغان ملت اونورو جرایدو کي چاپ او خپاره سوي دي.

پښتون ددې ترڅنګ چې ملي مبارز و او و ملي آرمانونو ته د رسېدو په لار کي یې زندانونه او محرومیتونه زغمل او د خپلو اصولو څخه په هیڅ ګون نه اوښتئ ، کله کله اشعار او نظمونه هم ویل.

۵- تاریخ نوین افغانستان— تالیف:یوویدګانکوفسکی و مسکوموسیل، مترجمین :داکتر ابراهیم عثمان ، داکتر قربان بابایوف و جمراد جمشید ، دپارتمنت تاریخ نوین افغانستان، پوهنځی تاریخ وفلسفه، پوهنتون کابل ، چاپ ۳- ۱۳۶۵ ش . مطبعهٔ پوهنتون :

"... Dissemination of ideas that reflected the interests of the middle strata, led in 1947 to the emergence of political organization "Vish zalmiyan" ("Awakened Youth"). It was quite colorful in its social composition movement. The number of participants does not exceed 100 persons. In its ranks were the petty bourgeoisie, the bureaucracy, the intelligentsia, and the clergy. At the head was a small landowner from Kandahar Muhammad Rasul Khan Pashtun."

محمد رسول پښتون
"کابل" مجله ۱۳۲۱ ش.

سره اوره[1] او سپين افق

داسمان کنار سري سوي دي   يا پرمابلي لمبي سوي
د هجران تياره ماښام   يا د تورو وريځو لفو دام دي
په تياره کي روڼي ښنا ده   په افق کي رڼايي ده
سپين رنگي[2] ...   د ملکو مهماني ده
څه عجيبه ننداره ده   شين دريا به سره کناره ده
يا د شنه چمن باغچه ده   په اشه کي يي لاله ده
يا افق دي خرو ښندلي[3]   يا سوي اور دي لگېدلي
يا سپين لحد په اسمان کي   سره گلان يي په داماني کي
يا اميد د پښتانه دي   يا سوي اوره د بېلتانه دي

چي ځلېږي پر تياره کي   يا بلېږي په سينه کي
يا مجلس د مستانو دي   په اسمان کي د خوبانو
سپين مخان سره يي غازي[4] دي   جونه سوي سندرې دي
يا د شنه خمه وتلي   سره شراب دي بهېدلي
د ماښام تياره خپره ده   د مستانو تېره پرده ده
يا د ميني سره لمبه ده   چي وتلي پر سينه ده
يا مقتل[5] دي د مينو   چي سوي سودي په وينو
سپين و سره ځلېدلي سو   شنه گلان دي غوړېدلي
د اسمان ښايسته باغچه ده؟   په چمن کي ننداره ده

سپين سره د مخ جانان دي   يا زما د آرزو کان دي
يا شهيد دي لگېدلي   د افق شاته لوېدلي
په اسمان کي تعزيه ده   د سره وستر گو[6] ده

* * *

چي ورځ په ريسي شپه ده   دا د غمان اسمان کره[7] ده
نيمه سره ده نيمه سپينه   د عبرت تابلو نگينه
په خندا اسي شهزاده   نتيجه د غم داده
چي د لمر سپينه وايه[8] ده
پر هغه ځای تعزيه[9] ده

NHP

(۱) اوره: اوريځ (۲) سپين رنگي: داسمري په کتاب کي دغسي داخل ده، بنايي سانو سوي وي. (۳) طغيان، ... (۴) په کتاب کي "غازي" راغلي دي. بنايي غاړي وي.
(۵) مقتل: د وژلو ځای (۶) فتنه، تشويش، وسواس (۷) کره: عمل، فعل (۸) وايه: کلمه، گفتار (۹) عزا، غم، د مصيبت تسليت.

The Founder of the "Weesh Zalmay" (Awakened Youth) Progressive Movement

Mr. Mohammad Rasul Khan Pashtoon

(1900 – 1982)

Mr. Mohammad Rasul Khan Pashtoon was the son of Haji Khuday Yaar Khan [(1)] (the leader and representative of the Barakzai tribes in the Loya Jirga held in 1923), the grandson of the late Haji Allah Yaar Khan (martyred in the battle of Maiwand in 1839), the great grandson of Habibullah Khan and the descendant of "Lo Adey" [(2)] (The Great Mother), Abdul Mansoor Khan Barakzai [(3)] (Mansoor Neka), and Sardar Abdullah Khan known as the "Great Khan." According to the oral history of the elders, Sardar Abdullah Khan was martyred in the war of Panipat during the reign of Ahmed Shah Baba. Only his head was brought back to Kandahar and buried in the village of Mansoor Ghunday.

Mr. Mohammad Rasul Khan Pashtoon was born to an esteemed family in September of 1900 in the village of Mansoor Ghunday located 30 kilometers south of Kandahar city. He received his primary education from his father Haji Khuday Yaar Khan [(4)] and a number of well-known scholars in Kandahar. He had a deep understanding and knowledge of philosophy, law, the Sharia rules, Islamic studies, and politics. He was well dedicated and a firm believer to the cause of national sovereignty, social justice, true democracy, and constitutional monarchy; and he fought against superstations (mythological tales) until the last moments of his life.

Mr. Pashtoon was a great Muslim and had a social and patriotic personality. Based on a recorded interview by Mr. Mohammad Din Zhwak, the late Khan Abdul Ghafar Khan (also known as Bacha Khan) had named Mr. Pashtoon "the pride of Barak." Mr. Pashtoon was one of the pioneers of the third period constitutionalists' movement in Afghanistan and was the founder of the "Misaq" (A Promise), "Weesh Zalmiyan" (The Awakened Youths) progressive movement circa 1928, and the "Afghan Brotherhood" movement in 1965. Mr. Pashtoon died at the age of eighty-two on July 04, 1982, and was buried at the cemetery of (Shuhada e-Saliheen) in Kabul. May Allah bless his soul.

The following lines were drafted by the late professor Abdul Shakoor Rashad, for the gravestone of Mr. Pashtoon regarding the dates of his birth and death:

Truly, to Allah we belong and truly, to Him we shall return.
Here rests, in need of your prayers, Mohammad Rasul Pashtoon
(The Son of Haji Khuday Yar Khan Barakzai).
He was born in Kandahar in 1900 and died in Kabul on the 13th
day of Ramadan, July 04, 1982.
From his early life until his death, he fought against superstitions and struggled for democracy and the
rights of people. For this "crime," he suffered a political imprisonment of 11 years.
(1952 – 1963)
Oh Allah, reward him the highest level in heaven for his patience.

Official Duties:

1. Battalion Commander in a newly formed Brigade called (Insha) during the reign of King Amanullah Khan
2. District Governor of Arghandab in Qalat - 1927
3. District Governor of Nawzad in Kandahar - October 1928
4. District Governor of Shurabak (After the Revolt of Saqaw)
5. District Governor of Khakrez
6. Promoted to the post of Governor of Ajristan - November 1932
7. Border Commander of Spin Boldak - January 1933
8. Communication Secretary in Pashtoon National Corporation - 1933
9. Battalion Commander and Chief of Police in Farah (grade 5th officer) - August 1938
10. Chief of Police in Kandahar - November 1939
11. Delivery Manager of Construction Material in the new city of Pul e-Khumri (in the Ministry of Economy) - September 1940
12. Director of Transportation in Pul e-Khumri - December 1940
13. Director of The Construction Department in Pul e-Khumri - July 1941

14. Manager of Food Supplies in Pul e-Khumri - July 1942
15. Deputy Chief of the Technical Department in the Factory of Jabel Saraj - June 1944
16. Director of Inspection Department in Pul e-Khumri - January 1945
17. Chief of Inspection Department of Kandahar’s Fruit Corporation in abroad - June 1945
18. Independent representative of Kandahar’s Fruit Corporation in abroad - December 1945
19. Director of Afghan Fruit Agency in Baluchistan - August 1946
20. Director of National Transportation - January 1950
21. General Manager of Government Monopolies - Feb 1950
22. Manager of Baghlan Province Monopolies - September 1951
(Political prisoner in Baghlan 1952 - 1963)
23. Manager of Kunduz Province Monopolies - 1964
24. Inspector of the Monopolies Department in the Capital - June 1965
25. Manager of Kunduz Province Monopolies - Dismissed for unknown reason after twenty days of appointment during the premiership of Hashim Maiwandwal. The deputy prime minister Mr. Popal gave orders to reappoint Mr. Pashtoon and compensate him for his salary for the dismissal period; however, these orders were not carried out due to Daud Khan’s coup d'état of 1973.

Political Life:

According to Mr. Habibi, (Mr. Pashtoon’s Brother in Law), Mr. Pashtoon possessed the idea of a progressive nationalistic movement before the beginning of Saqaw’s Revolts. In this regard Mr. Pashtoon, in a note based on his autobiography and which was given to Professor Habibi mentions that: “The roots of my movement existed in Kandahar before 1928. The formation of “Weesh Zalmiyan” (The Awakened Youths) and the declaration of its policy had begun 10 days before the Saqaw revolts at the end of 1928. I presented the platform of the constitutionalists and the proposal for forming an association to my friends, which was accepted by them. My associates included Mohammad Rafiq Khan, Mirza Mohammad Azam Ayazi, Munshi Manzor Mohammad, Principle Mohammad Karim Khan, Awliya Udin Khan, a number of teachers and students, and others. From that group I remember the name of “Muslim” who is still living in Kandahar.”

In 1936, political figure Mohammad Rasul Khan Pashtoon was working with Mr. Mohammad Gul Khan Momand in the northern provinces of Afghanistan. He had started discussing with Ghulam Hassan Khan Safi the idea of a collective movement for the establishment of a constitutional monarchy. After a little while, when they met in Peshawar, Mohammad Rasul Khan Pashtoon and Ghulam Hassan Khan Safi both decided to initiate their peaceful political movements for the establishment of a constitutional monarchy in Greater Kandahar and in Greater Nangerhar respectively. Nonetheless, in 1945 the intelligentsia of Kandahar and Nangerhar both reached an agreement that they would start their peaceful political movement in their respective regions, intellectually and practically, in order to assert democracy and constitutional monarchy.

In 1946, the tyrannical and oppressive period of Prime Minister Mohammad Hashim Khan ended with his resignation from office. His brother, Defense Minister Shah Mahmood Khan was appointed to his post. Prime Minister Shah Mahmood Khan fearing the threat of a possible revolt and general uprising by the Afghan people against a totalitarian and autocratic regime, changed his course of action in internal affairs. As a result, in order to illustrate his sympathy with the Afghan people, he released many political prisoners. Meanwhile, he spread the rumors of a phony democracy on the one hand, and made promises to carry out a series of reforms on the other. He accepted allowing free publications and launching free elections for the second term of the parliament and municipalities.

Therefore, in 1947 The Awakened Youths (5), considering their historical mission and national responsibility, acquired the opinions of contemporary scholars and intellectuals. Thus, forty-three scholars – intellectuals, members of think-tanks, and writers – expressed their opinions about the Awakened Youths as such: “The Awakened Youths are the pioneers of the collective national and social movement, and the demonstrators of Afghan might; therefore, it is their duty and responsibility to enter into the arena of political competition of the social life immediately.” As a result, Mr. Mohammad Rasul Khan Pashtoon along with other awakened youths explicitly and within a rational and logical framework started their peaceful collective movement for the establishment of democracy and constitutional monarchy. This political figure was the most powerful and determined founder of The Awakened Youth’s Political Party. It was his indomitable will and unconquerable soul that made him suffer from political imprisonment for eleven years and eight months.

A true and patriotic son of Afghanistan, Mr. Mohammad Daud Momand had once submitted an article to

a publication called Aiena e-Afghanistan (The Mirror of Afghanistan), published in the United States. The article was titled “The Leader of the Third Period Constitutionalists, Mohammad Rasul Pashtoon.” In this article, Mr. Momand had stated that: “Mr. Pashtoon personally despised acquiring power. Pashtoon had told one of his friends from the time of their struggle, the late ... who had later gotten to the position of ambassador and minister that: “...you don’t even have one degree, but I have twenty (Mr. Pashtoon pointed to his numerous resignation letters); ‘you live in palaces but I live the life of a nomad; you... but I don’t even get my retirement; you are capricious, but I have never diverted from my principles, and I will die with these principles…”

Notable Work:

The national and social activist Mr. Mohammad Rasul Khan Pashtoon spent the major part of his life in conducting political activities and/or in prisons. Although he had a great deal of enthusiasm for knowledge and education, Mr. Pashtoon did not have adequate time for writing. The following are Mr.Pashtoon’s writings and anthologies:

1. Brief history of Weesh Zalmyian (The Awakened Youths), unpublished
2. Translation of Abu Shakoor Salimi’s book of Faith into Farsi, unpublished
3. “Andesha ha” Thoughts (philosophical, social, and complimentary essays), unpublished
4. Brief history of the world, unpublished
5. Summaries in six volumes
6. The booklet of Women’s Movement in the Amani Period

A great number of essays, articles, and poems were printed and published in the magazine of Kabul, the gazettes of Angar, Tolo Afghan, Karwan, Afghan Milat, and others.

Mr. Pashtoon was a patriotic fighter for national liberation and for this reason, he suffered imprisonment and deprivations for the purpose of reaching his national goals and always held a firm and solid position about his principles. Mr. Pashtoon sometimes offered a number of great poems, too.

---

1. On page 762 of “Afghanistan dar Maseer e-Tarikh” author Mr. Ghubar has written that Haji Khuday Yaar Khan with the assistance of other elders of Kandahar prevented the British conspiracy known as “Kuchnai Shaheed” the (Little Martyred).

2. Lo Adey (the Great Mother) was Wazir Fateh Khan’s mother, Abdul Mansoor Khan’s and Habibullah Khan’s (the great grandfather of Mohammad Rasul Pashtoon) sister, and Sardar Painda Khan’s wife. She is the founder of the Barakzais’ Sultanate in Afghanistan.

3. Munshi Ata Mohammad Shikarpori in his book “Nawa e-Maarik”, pages 230-238, 849-854, 866- 872 has written that Abdul Mansoor Khan Abazai Barakzai was the last Afghan governor of Shikarpor in India until 1825 during the reign of His Majesty Shah Mahmood.

4. During the reign of His Majesty Amir Abdul Rahman Khan, taxes were levied on the lands owned by the Barakzai tribes in the south and southwest of the country. These taxes continued to be collected during the reign of King Amanullah Khan and remained a major issue on the regional level. At that point, the Barakzai elders from Greater Kandahar came together in a meeting and decided to appoint such a representative who not only has tribal influence and prominence but also has fluency in Farsi. They wanted to have their representative convince the government in Kabul to pardon the Barakzai tribes from paying taxes levied on their lands – most of which are dry lands and are not very productive.

At the end of this meeting, the only suitable person for the job was Haji Khuday Yaar Khan (Haji Baba) who was a tribal elder, and he knew Farsi very well; thus, he was appointed. Haji Khuday Yaar Khan left for Kabul and stayed there for several months. After presenting numerous logical reasons and explanations, he convinced the government to exempt the Barakzais’ properties from taxes.

After the death of Haji Khuday Yar Khan, his highness Amanullah Khan exempted the Barakzai tribes from paying taxes. The property tax exemption for Barakzais continued throughout the reign of King Zahir Shah. This was considered one of the most remarkable achievements of Haji Khuday Yaar Khan for Greater Kandahar.

5. Tarikh Nawin e-Afghanistan (New History of Afghanistan) Author, Youwed Gankofiski and Moscow Mosel, Translation by Dr. Usman Ibrahim, Dr. Qurban Babayuf, and Jumrad Jamshid, Department of Latest History of Afghanistan, Faculty of History and Philosophy, Kabul University, Published in the University Press, June 1986: "... Dissemination of ideas that reflected the interests of the middle strata, led in 1947 to the emergence of political organization "Vish Zalmiyan" (Awakened Youth). It was quite colorful in its social composition movement. The number of participants does not exceed 100 persons. In its ranks were the petty bourgeoisie, the bureaucracy, the intelligentsia, and the clergy. At the head was a small landowner from Kandahar Muhammad Rasul Khan Pashtun."